# كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ». «دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې، په تله کې درنې او رحمان - ذات - ته محبوبې دي: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ»، يعنې پاکي عظيم الله لره ده، پاکي او ستاينه الله لره ده».

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو کلمو په اړه خبر ورکوي چې يو سړی يې له سختۍ پرته او په هر حالت کې ويلی شي او دا چې په تله کې يې اجر ډير لوی دی، او دا چې زمونږ رب؛ رحمان ذات يې خوښوي. سبحان الله العظيم، سبحان الله وبحمده؛ ځکه چې پدې دواړو کلمو کې الله تعالی په لويۍ او کمال سره ياد شوی، او له نقص څخه يې پکې پاکي بيان شوي ده.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee